ليکوال : پوهنوال رسول باوري
هلند/ اسن ۲۳ \ ۱۰ \ ۲۰۰۷م

# تاريخي جغرافيا په يوه لنډ بحث کي

## سرمحقق بختانی خدمتګار اوپروفيسور سيمس ويلم

په دې ليکنه کي زما موخه د هغو دو څېړنيزو ليکنو پر لور پام اړول دي چي د افغان څېړونکي سر محقق بختاني خدمتګار په قلم د کوشانيانو د نړيوال سيمنار لپاره په ۱۳۶۱ لمريز کال چي د ۱۹۸۲ ميلادي کال سره سمون خوري د (بودايي وخت د يادګارنو ځيني بيلګي د چيني زايرانو د ليکنو په رڼا کي) تر سر ليک لاندي ليکلي ، او خپره شوېده ، او له بلي خوا مي د انګريز فلالوجيست او پالو اپيګرافيست نيکولاس سيمس ويلم هغه ژباړه په پام کي ده چي د رباطک د ډبرليک څخه يي کړېده . ( په يو شمير ليکنو کي د هغي سيمي نوم چي دا ډبرليک پوري تړلی ، په رباتک ليکل شوی دی . زماپه اند د دې نوم ريښه به د رباط څخه وي چي مُصغر شوی ډول يې ښايې رباطک وي.)
د استاد بختاني د يادي شوي ليکني بنسټ د چيني زيارت کونکو پر يونليکونو ولاړ دی ، چي ښاغلي عبدالکريم مُحب په زيار ژباړل شوي او په ۱۳۵۷ لمريز کال چاپ او خپاره شول . استاد بختاني د همدغه اثر پر بنسټ د لرغوني افغانستان څخه را پاته ژبني ويوکي ، جغرافيايي نومونه او روايتي نکلونه په زياتي ژورتيا را څيړلي او وړاندي کړيدي . او سيمس ويلم بيا د رباطک ډبرليک ژباړلی او دهغې ژباړي پر بنسټ يې د لرغوني افغانستان ژبني ، جغرافيايې او مذهبي سپناوي ته پام کړی دئ چي د افغانستان په لرغوني تاريخ کي خورا زيات ارزښتمن ګڼل کيږي .
استاد بختاني په ياده شوې څېړنيزه ليکنه کي هڅه کړې ، چي د هغو ويوکو ، جغرافيايې نومونو او روايتي نلکونو برخي د چيني يونليکونو څخه را يادي کړي چي همدا اوس هم په هېواد کي شته او کارول کيږي . دا څېړنيزه ليکنه د علمي ارنو سره سم په وړو سرليکونو وېشل شوېده ، زه په دې برخه کي د دې ليکني يوې برخي ته پام کوم چي د سيمي جغرافيايې نومونو سره تړاو لري . او بيا به د هغه ډبرليک ژباړي ته هم پام وګرځو چي د انګريز پالواپيګرافيست ښاغلي سيمس ويلم په زيار بشپړه شوې ، چي هم په همدې کوشاني مهال پوري اړه لري .
استاد بختاني د چيني زيارت کونکو هغه ليکنو ته پام اړولی چي د سيمي په لرغوني جغرافيا پوري اړه لري . د بيلګي په توګه د چيني زيارت کونکي فاهيان په حواله ليکي چي : د فاهيان په يادداشتونو کي د کېشيا له هېواد څخه د يوې مياشتي په مزل دوی هغه هېواد ته رسيږي چي خلکو ته تخارا يا د واورينو غرونو سړي وايې ، له دې ځای څخه جنوب لوېديځ خواته پنځلس ورځي سخت مزل کوي . دوی د) سينتهو ) غاړي ته رسيږي او له هغه څخه پوري وتو نه وروسته او چينګ ( اوديانا ( ته رسيږي . او د اوديانا په باره کي ليکي : ( دا دشمالي هند پيل دی . دلته ټول خلک د منځني هند په ژبه ږغيږي ... ) له اوديانا څخه درې تنه ننګرهار ته ولاړل . فاهيان په باراني فصل کي اوديانا کي پاته شويدئ . بيا سوهوتو ( سوات ) ته ولاړ ( د کتاب ۲٤ مخ )فاهيان د سوات څخه ختيځ لور ته د پنځو وروځو مزل څخه وروسته ګندهاراته چي دی وايې : له هغه ځايه ختيځ لور ته د اوو ورځو په مزل فولو شاه ( پيښور) ته رسيږي . ( د کتاب ۲۵ مخ)

له دې ياد داشتونو وروسته استاد بختانی ليکي : د سفر په دې برخه کي موږ له دغو نومونو سره مخ کيږو :
تخارا = کېدای شي چي اوسنی تخار يا بدخشان وي.
سينتهو = کيدای شي چي اوسنی اباسيند وي.
او ديا نا : اوديانا د پيښور په شمال کي د سوات پر سيند واقع سيمه وه.
( د هوونتسنګ د اندازي ښودلو له مخه د هندوکښ ټوله جنوبي غربي برخه د چترال نه نيولې تر اباسينده پوري په اوديانا کي شامله ده .)
ننګرارا = اوسنی ننګرهار.
سوهو تو = اوسنی سوات.
ګندهارا = چي مرګز يې پيښور وو .
تاکزيلا = اوسنی تکسيلا.
فولوشا = اوسنیپيښور .

انګريز پاليو اپي ګرافيست نيکولاس سيمس ويلم د رباطک ډبرليک د هغه ويد يو يې فلم پر بنسټ وژباړی چي د افغانستان په شمال کي په اتفاقي توګه په ۱۳۷۲ لمريز کال موندل شوی وو .ددې ډبرليک د بشپړي ژباړي زيار او ربړ ښاغلي ويلم و ګالی . ډبرليک د لرغوني افغانستان او په ځانګړي توګه د کوشاني ستر واکی په اړه زيات ارزښتمن مالومات لري، چي له هره اړخه د زيات پام او ګټي وړ دي . په دې ډبرليک کي د نورو مالوماتو تر څنګ

د کوشاني مهال جغرافيايي سيمي هم پيژندل شويدي . د رباطک ډبرليک د څلورمي کرښي څخه تر شپږمي کرښي پوري دکوشاني ستر واکۍ جغرافيايي سرحدونه داسي بيانوي: ( د يادولو ده چي دا کرښي مي د هغه انګليسي متن څخه ژباړلې چي د سيمس ويلم څخه د بي بي سي راډيو پخوانۍ همکاري ميرمن صفيه حليم تر لاسه کړې او بيا يې د مهربانۍ له مخي زما په واک کي هم راکړ.)
( ٤ تر ٦ --- په لومړي کال يې هغوئ ( هند ) ته اعلان وکړ چي دا ټوله سيمه لکه کونادیانو (Koonadeano (ياکوندينا (Kundina ښار، د اوجاين يا اوزيني (Ozene, Ujjain) ښار، د زاګېډا يا ساکيتا (Zageda (Saketa) ښار او د کوزامبو يا کوزامبي ( Kozambo (Kausambi ښاراو د پوتاليپوترا او يا پوتالي پوترو ( Palabotro (Pataliputra) ښار او هغه ليري د زيري تامبو يا سرې چامپا ( Ziri-tambo (Sri-Champa ) ښار زموږ دواکمنۍ سيمي دي.

په کتيبه کي د نومونو د لړليک څخه داسي بريښي چي د کتيبې ليکوال غواړي د کوشاني سترواکۍ هغه ليري پرتې سيمي په ګوته کړي چي د کوشاني پلازميني څخه ليري پرتې دي ، او يا هم د ستروواکۍ سرحدي کرښي دي . په دې لړ کي يو شمير نومونه د شک پرته څرګند دئ ، د بيلګي په توګه دکوسامبو سيمه چي په پالي ژبه کي کوسامبې او په سانسګريت کي ورته کاوسومبوويل شويدي . دا سيمه په هند کي د الله اباد سهيل ته څه ناڅه ٣٥ ميله ليري پرته ده ، چي تر اوسه هم يو شمير سيمي په ورته ژبني تون ( کوسام سيمي ) يادېږي . د پوتالي پوترا سيمه خو له ورايه څرګنده ده چي په لرغونو زمانو کي د مرکزي هند يوه نامتو سوداګريزه سيمه ګڼل شوېده ، د همدې پوتالي پوترا څخه د وريښمو نړيوالي لار سهيلي څانګه پيل شوې وه .
د سيري چامپوس د سيمي په اړه يو شمير هندي لرغونپوهان زړه نازړه دي چي ، دا سيمه د کوشاني ستر واکۍ په دننه کي شامله وه او که د ستر واکۍ بهرنۍ سرحدي کرښه ده . دهغه شمير پوهانو له جملې يو هم د هند پاليو اپيګرافيست (Mukherjee, B.N ) دئ . د نوموړي په باور د سري چامپوس سيمه د کوشاني واکمنۍ په ولکه کي شامله نه وه ، نوموړې دليل راوړي چي په رباطک ډبرليک کي د دې سيمي نوم ښايې په دې نيت ياد شوی وي چي د هغي ستر واکۍ دسرحدي کرښي بلي غاړي ته واقع نامتو سيمه وه.

د دې سره - سره چي لا تر اوسه د رباطک ډبرليک په اړه هر اړ خيزي څېړني نه دي تر سره شوي ، خو ځني حقيقتونه دا څرګندوي چي د چامپوس سيمه د کوشاني ستر واکۍ يو نامتو ايالت وو . لنډ په لنډه خو دا درې د منلو وړ دليلونه او حقيقتونه شته چي د ښاغلي مکرجي په وړاندي و ويل شي . لومړۍ دا چي چامپوس نه يوازي دا چي د کوشاني ستر واکۍ ورستۍ سرحدي کرښه نه ده، بلکي د هغې سيمي لږ وړاندي لويديځ لورته د کوشاني ستر واکۍ يو بل نامتو ايالت پوتالي پوترا واقع شويدی، چي د کوشاني ستر واکۍ يو خورا ارزښتمن سوداګري مرکز وو.
دوهمه د باور وينا دا ده چي د رباطک په ډبرليک کي د يادو شويو سرحدي ښارونو نومونه دا څرګندوي چي د هغه مهال د کوشاني ستر واکۍ اړوند ښارونه وه، لکه چي په دې را پاته افغانستان کي د سرحدي کرښو په اړه معموله وينا د واخانه تر بولدکه د اسلام کلا تر تورخمه ، دا څلور خواوي د اوسني افغانستان سرحدي ښارونه دي چي د ګاونډيو هېوادونو له لوري د افغانستان خاروه او زموږ د هېوادملکيت منل شوئ دئ . او دريم دا چي د کوشاني ستر واکۍ پر مهال د واکمنۍ په منځ کي د اقطاع او جزيې متود او معامله رايج نه وه، په دې ډول دا د منلو نه ده چي د ستروواکۍ په منځ کي يوه داسي سيمه چي هم ستراتيژيک ارزښت لري او هم د سوداګرۍ له اړخه نامتو او پيژندل شوې وي ، خو هغه دي د ستروواکۍ ملکيت نه وي .

د رباطک په ډبرليک کي د کونديناا نوم هم ياد شوی دئ . په ډبرليک کي دنومونو پر له پسې والۍ دا څرګندوي چي دا سيمه به د کوشاني ستر واکۍ پلازميني ته نږدې ايالت يا اداري واحد وي ، د ډبرليک د ليکلو مهال په يوه مانا څرګند دئ چي د لوی کنشکا د واکمنۍ په لومړۍ کال ليکل شوی دئ . د دې مانا دا کېدای شي چي د کوشاني ستر واکۍ مرکز د هېواد د شمالي سيمو څخه د هندوکش سهيلي برخو او په ځانګړي توګه د بګرام لرغونۍ ښار ته لېږديدلی دئ . دا بيخي څرګنده ده چي د لوی کنشکا د واکمنۍپر مهال د ستر واکۍ اوړنۍ پلازمينه بګرام او ژمنۍ پلازمينه پورا شاپورا يا پيښور وو . دې يادوني ته په پام ښايې د سر محقق بختاني خدمتګار دا ګمان يقيني شي چي اوديانا د سوات سند پر سر ښيرازه سيمه وه چي هونتسنګ هم د هغې يادونه کړېده.
د رباطک په ډبرليک کي د کونديناا لومړۍ يادول دا څرګندوي چي دا سيمه د پلازميني څنګ ته پرته ده ، دوهم دا چي همدا اوس په نوموړې سيمه کي د کوشاني پير زياتي نښانې شته چي د دې سيمي پخوانۍ ارزښت ، شونتيا او وړتيا څرګندوي ، ځکه په يوه داسي ارزښتمن ډبرليک کي د هغې نوم ياد شوی دئ . په دې ډول ښايې د ډبرليک کنديناا ښار نوم به هغه ايالت وي چي چيني زيارت کونکو په خپلو يونليکونو کي د او ديا نا په نوم ليکلې او ثبت کړې او استاد سر محقق بختاني خدمتګار د همدغه چيني يونليکونو پر بنسټ د سوات پر سند واقع شوې سيمه ګڼلې ده . زما باور دا دئ چي د تاريخي جغرافيا پوهانو راتلونکي څېړني به د رباطک ډبرليک په رڼاکي د زياتو هغو ناڅرګندو ټکو سپيناوۍ وکړي چي لا تر اوسه يقيني نه ګڼل کيږي .

په پای کي  د هېواد نامتو ليکوال، د افغانستان د علومو اکادمۍ  سر محقق  او زړه سواند مشر عبدالله بختاني خدمتګار صاحيب ته د نورو لاربښونکو اثارو د پنځولو هيله من يم  او د لوی ښتن ( ج  (په دربار کي  ورته  داوږد او خوشاله ژوند دعا کوم.

په درنښت